# د پښتون ژغورنې غورځنګ منشور او  آئین

## *1- د تحریک نوم:

پښتون ژغورنې غورځنګ /پښتون تحفظ مومنټ(پي ټي ایم)

## 1.1  د تحریک بیرغ:

تور (د پښتنو سره شوي ظلمونو ښکاره کؤلو د پاره ) او سپین (پۀ لر او بر کښې سولې د پاره. )

## *2- اغراض و مقاصد

**2.1**

پۀ پاکستان کې منځنۍ، جنوبي ،شمالي پښتونخوا او د پاکستان نور لوی ښارونو کښې جبري ورک کړي شوي پښتنو له د آئین د متعلقه شقونو مطابق د دوي د  منصفانه سماعت (فېئر ټرائېل) حق اخېستل.

**2.2**

### رښتیاؤ کمېسیون

پي ټي ایم به د ملګري ملتونو د تنظیم په نګرانۍ کښې یو با اختیاره د رښتیاؤ کمېسیون ( ټي آر سي)  دپاره پۀ ریاست سیاسي او اخلاقي فشار راولي چې د پښتنو سره د ریاست لۀ خوا عمومي او خصوصي د وار آن ټېرر لړ کښې د شوو ظلمونو آزاله ؤشي.

**2.3**

### ماورائې عدالت قتل عام  بندؤل او د لېنډ مائېنز صفا  کؤل

د پښتنو ماورائې عدالت قتل عام د بندؤلو او جنګ ځپلو علاقو پۀ خصوصي توګه منځنۍ پښتونخوا نه د لینډ مائینز صفا کؤلو دپاره هڅه او غوښتنه کؤل

**2.4**

### د اجتماعي سزاګانو عمل ختمؤل

د ځنې افرادو د کړنو یا عمل پۀ ځواب کې اجتماعي سزاګانې ورکؤلو خلاف اواز پورته کؤل. او د ختمؤلو د پاره هڅې کؤل

**2.5**

### د فوج بې ځایه قبضې ختمؤل

د پښتنود تجارت، ځمکې، تعلیمي ادارو د بربادۍ پۀ حواله ، د معدنیاتواو نورو ټولو وسائلو د  لوټ مار،بتهو او د فوج بې ځایه قبضو ختمؤلو د پاره شعور بېدارؤل او د دې جبر د ختمؤلو لړ کښې کار کؤل.د وسائلو حق ملکیت اخېستل.

**2.6**

## بلاک شناختي کارډونو مسله حل کؤل

په منځنۍ، جنوبي، شمالي پښتونخوا او د پاکستان ټول لوې ښارونو کې د پښتنو بلاک شناختي کارډونو مسله راؤچتول او د حل لارې پېدا کؤل

**2.7**

## د ایکشن ان ایډ ان سول پاؤر آرډیننس منسوخ کؤل.

ایکشن ان ایډ ان سول پاؤر آرډیننس(2019) د منسوخ کؤلو د پاره کار کؤل

**2.8**

## جنګ ځپلو سیمو کې د املاک د تباهۍ ازاله کؤل

پۀ جنګ ځپلو علاقو کې د املاک د تباهۍ په کوم کې چې کورونه، بازارونه، سړکونه، تعلیمي ادارې او نور شامل دي ازاله کؤلوپۀ خاطر د ریاست نه غوښتنه کؤل او عملي کېدو د پاره تګ لاره ټاکل

**2.9**

## د رابطې نیټ ورکونو بحالي

پښتونخوا وطن کښې د ټېلیفون او د انټرنېټ د نېټ ورک بحالۍ دپاره هڅې کؤل

**2.10**

## نسلي پروفائلنګ ختمؤل

پۀ ویډیوز او اشتهارونو کې د پښتنو نسلي پروفائلنګ او د ISPR د پښتنو عمومي پروفاېلنګ، میډیا، تعلیمي نصاب، د پښتنواو پښتو سره امتیازي سلوک د بندؤلو د پاره شعور خورؤل او مبارزه کؤل.هرخوا د قامي برابرۍ د پاره غږ پورته کؤل.

**2.11**

## د آئي ډي پيز واپسي

جبري کډوالو (آئي ډي پيز) د باعزته واپسۍ غوښتنه کؤل

**2.12**

## پۀ چېک پوسټونو غېر انساني روېې ختمؤل

پۀ پښتونخوا وطن کې په چېک پوسټونو د پښتنو سره د غېر انساني او غېر اخلاق روېې خلاف غږ پورته کؤل او د بد عمل ؤدرؤلو هڅې کؤل

**2.13**

## سوبلین سپریمېسي

پۀ پښتونخوا وطن کې سوبلین سپریمېسي، سوبلین ادارو ته اختیار سپارل او د قانون حکمراني چې یقیني کړل شي؛دغه د پاره زور لګؤل.

## 2.14

## د ترهګرو ریاستي ملاتړي او مرسته ختمؤل

د ریاست لۀ خواه پۀ پښتونخوا وطن کې ترهګرۍ، ترهګرو یا د جنګجو ډلو ملاتړۍ خلاف غېر پورته کؤل. او دهغې خلاف مبارزه کؤل

## 2.15

## لر او بر کښې سوله

د لر او بر وطن نه د بد امنۍ د خاتمې ، او هر قسمه پراکسي جنګ کښې استعمالېدو ته نۀ پرېښودلو او سولې راوستو د پاره هڅې کؤل.د پښتونخوا وطن نه هر ډؤل ترهګري ختمؤل کۀ هغه د امن کمېټو پۀ نوم وي، پۀ بل نوم وي یا پټ پۀ پټه وي.

*3 -

## د تحریک اصول

1. تحریک به د خپلو مقاصدو د حصول د پاره لۀ هر ډول سولَئیزو لارو کار اخلي.
2. تحریک به پۀ قام کې اجتماعي سیاسي شعور د بیدارۍ او فکري یووالي د پاره هر ډول وسایل کاروي.
3. تحریک به د تحریر ، تحقیق ، دلیل او ثبوت پراساس د پښتون قام او پښتونخوا وطن مسایل او مقدمات وړاندې کوي.
4. کوم غړی چې پۀ درېو اجلاسونو کې بې لۀ څۀ معقول عذر غېرحاضر شي غړیتوب به یې ختمېږي.
5. د ائین ختمؤل او مرکزي کمېټه د خپل وخت نه مخکې تحلیل کؤلو اختیار د چا سره هم نشته ، پۀ ائین کې ترمیم صرف د مرکزي کمېټې اجلاس کې ۲ پر ۳ اکثریت کیدای شي.
6. د ښځو د ګډون څخه بغېر قامي خپلواکي ناممکنه ده ، پۀ تحریک کې به د ښځو ګډون کېږي او د هغوی د احترام د پاره به اساسي کارونه کېږي.
7. پې ټي ایم به غېر پارلماني وي او د دې عهدېدار به د پارلمان د پاره کاندید نۀ جوړېږي.

## 3.1- غړیتوب

هر هغه څوک چې د پي ټي ایم اغراضو ، مقاصدو ( تګلارې او مرام ) سره اتفاق لري د پي ټي ایم غړی جوړیدای شي .(بنیادي غړیتوب به کېږي)

## 3.2- د غړي حقوق او کار

1. هر غړی د تحریک د کونسل ، تحصیل ، ضلعې ، صوبې او مرکزي عهدې د پاره کاندید کېدلی شي
2. هر غړی چې د کوم فورم برخه وي پۀ هغه فورم کې د رایې حق لري او پۀ هغه فورم کې د غورځنګ پۀ هکله نیؤکې ( تنقید ) ، وړاندیزونه او سپارښتنې وړاندې کؤلای شي.

3. د پي ټي ایم هر غړی مکلف دی چې د غورځنګ مرام ، تګلارې ، پرېکړې ، نظریات ، کړنې ، تشهیر ، ژغورنه او ملګرتیا ؤکړي او د هلو ځلو برخه جوړ شي.

4. هر غړی حق لري چې د خپل موقف یا رایې په حق کې دلیلونه وړاندې کړي تر څو نور ملګري قانع او د ځان د رایې ملګري کړي خو کله چې پۀ جمهوري او قانوني لار فېصله ؤشي بیا نۀ شي کؤلای چې د هغې پرېکړې مخالفت ؤکړي او یا یې پرضد منفي تبلیغات ؤکړي او یا پۀ دې اړه رسنیو ته مخالف نظر ورکړي.

5. پي ټي ایم د ټولو پښتنو او مظلوم وولس د استازیتوب غورځنګ دی ، د پښتونخوا د ټولو ګوندونو (پارټیو ) رکن دلته غړی جوړېدای شي مګر عهده دار نۀ شي جوړېدای.او ریاستي ملازم ملاتړ جوړېدای شي خو غړی نۀ شي جوړېدای

**-4*-**

## د پي ټي ایم ادارې او خصوصي کمېټې

د پي ټي ایم ادارې به تحصیل کونسل ، ضلعي تنظیم ، صوبايي تنظیم ، مرکزي تنظیم او مرکزي کونسل وي( یو ټرم یا سېشن به درې کاله وي)

مالیاتي اداره ، د قانوني چارو اداره ،د اطلاعاتو نشریات اداره، د روزنې او تنظیمي اداره ، د رابطې کمېټه ، مرستندویه کمېټه ، د جنګ ربښتیا کمېټه ، ډائسپوره کمېټې یعنې بهر مېشتې کمېټې ، الېکشن کمېشن /ارګنازئزنګ کمېټه او ډېسېپلېن کمېټه پکې شامل دي

**4.1**

## د پي ټي ایم  خصوصي کمېټو اصول:

1. د پي ټي ایم د هرې ادارې او کمېټې غړی به د پي ټي ایم د پاره خپل ټول صلاحیت او اهلیت پۀ راستئ پکار راولي.
2. د پي ټي ایم هره اداره یا څانګه به د ټاکنو کمېسیون (الېکشن کمېشن) پۀ موجودګئ کې د آئین سره سمه جوړېږي
3. یو غړی د دوو څانګو ( کمېټو ) مشر نۀ شي جوړېدای
4. د هرې څانګې ( کمېټې ) د غونډې ( میټېنګ ) فورم به ۵۰ سلنه وي او کۀ لۀ پنځوس سلنه څخه کم وي بیا وړاندیزونه کولای شي خو پرېکړه نۀ شي کولای
5. د پي ټي ایم هره څانګه به د ښځو د ګډون هڅه او ډاډ ګیرنه کوي
6. د پي ټي ایم د هرې څانګې ( کمېټې ) موده به د درېو کالو د پاره وي مګر دا موده د مرکزي کمېټې لۀ لارې غځېدلی هم شي.
7. مرکزي مشر به د ټولو څانګو څارنوال وي.
8. ټولې څانګې ( کمېټې ) به خپل کار او هڅې په لیکلي ډول پر مخ وړي

**4.2**

## د پي ټي ایم ټاکلې څانګې/کمېټې.

## کونسل / کلی

1. د مقامي کودېناتور ټاکنه به د ضلعي الیکشن کمېسون پهٔ موجودګی کښې د مقامي یونین کونسل ( کلي) غړي ترسره کوي
2. د یونین کونسل کوردیناتور به پهٔ کونسل ( کلي) کې پي تي ابم فعال ساتي.اجلاس به میاشت کې کم نه کم یو ځل وي.
3. د کونسل ( کلي) کوردیناتور به پهٔ کونسل کې د پي تي ابم د غړو سره پهٔ تماس کې وي.
4. کونسل کوردیناتور به د تحصیل او ضلعې لهٔ لوري ورسپارل شوی مسؤلیت پوره کوي.

-4.3 -

## تحصیل کمېټه

1. په کونسل کې ټاکل شوي ټول کوردیناتوران به د تحصیل کمېټې غړي وي.
2. تحصیل کمېټه به پهٔ تحصیل کې پي تي ابم فعال ساتي.اجلاس به میاشت کې کم نه کم یو ځل وي.
3. تحصیل کمېټه به د ضلعې کمېټې د پاره د ضرورت وړکسان پوره کوي.

– 4.4

## ضلعي کمېټه

1. د ضلعي کمېټې شمېر به ۳۰ تنه وي.پهٔ خاص صورتحال کښې د شمېر فېصله به مرکزي کمېټه کوي.
2. د تحصیل څخه به برابر برابر کسان د ټولټاکنو لهٔ لارې او د تحصیل کمېټې پهٔ مشوره راځي.د هر تحصیل کوردیناتور به پهٔ لحاظ د عهدې د ضلعې د کمېټې غړی وي.
3. ضلعي کمېټه به د ټولټاکنو لهٔ لارې ضلعي کوردیناتور ټاکي.
4. ضلعي کمېټه به د ټولټاکنو لهٔ لارې د غورځنګ ټولنې ځانګړې ځانګې ( کمېټې ) جوړوي.
5. ضلعي کمېټه به د مرکزي اوصوبايي کمېټې د پاره یو یو تن انتخابوي/ ټاکي.
6. ضلعي کمېټه به پهٔ میاشت کې یو ځل غونډه کوي او د ضرورت پر وخت پې هر وخت کولای شي

– 4.5

## ایالتي (صوبايي ) کمېټه

1. پهٔ صوبه کې چې څومره ضلعي ( ولسوالۍ ) کمېټې دي د هغه ضلعې ( ولسوالۍ ) څخه به یو یو تن غړی ټاکي.
2. د هرې ضلعې ( ولسوالۍ ) کوردیناتور به ځانله د صوبايي کمېټې غړی وي.( پهٔ لحاظ د عهدې)
3. صوبايي کمېټه به پهٔ صوبه کې غورځنګ فعال ساتي.
4. صوبايي کمېټه به د تحریک / غورځنګ ټولنې ځانګې ( کمېټې ) فعاله ساتي.

5. صوبايي کمېټه به د مرکزي کمېټي کمېسيون پر وړاندې د صوبې مشر ( کوردیناتور ) ټاکي.
6. د ټولټاکنو کمېسيون پهٔ وړاندې به د صوبې ټولې څانګې ( کمېټې ) جوړېږي
7. صوبايي کمېټه به په هرو دوو مياشتو کې خپله غونډه ترسره کوي
8. صوبايي کمېټه به د مرکز د پرېکړو/ فېصلو پهٔ رڼا کې تصميم نيسي او کار کوي.
9. د صوبايي کمېټي د کار موده هم درې کاله ده.

## -4.6

## مرکزي کمېټه

1. هره  ولسوالي ( ضلعه ) به د ټاکنو کمېسيون پهٔ وړاندې يو تن د مرکز د پاره ټاکي.
2. د صوبايي کمېټي کوردیناتور به ځانله د مرکزي کمېټي غړی وي. ( پهٔ لحاظ د عهدې)
3. مرکزي کمېټه به ټول تحريک/غورځنګ فعال ساتي.
4. مرکزي کمېټه به د پي ټي ايم فيصله کؤنکې کمېټه وي.
5. د پي ټي ايم مرام ، تګلارې او لاسته راوړنې د پاره به ټولو څانګو ته هدايت کوي ( لارښوونه به ورته کوي).
6. د تحريک ټولې خصوصي ( ځانګړې ) څانګې يا ادارې به د مرکز خصوصي کمېټي وي.
7. د مرکزي مشر سره به د ۱۲ تنو ( اخستلو) اختيار وي خو نومونه به يې مرکزي کمېټي ته وړاندې کوي.
8. د غورځنګ هلې ځلې ( سرګرميو ) پرېکړې به مرکزي کمېټه کې پهٔ ساده اکثريت کېږي او په آئين کې به بدلون ۲ پر ۳ اکثريت سره کېږي. خو صرف د شق شمېر ۳ اووم نمبر جُز پهٔ حواله بدلون به پهٔ ۷۵سلنه وي.
9. مرکزي کمېټه به د تحريک ټول ريکارډ پهٔ ليکلي ډول خوندي ساتي.
10. د تحريک مشر به د مرکزي کمېټي سرپراه وي.
11. د ټولو کمېټو د کار خلاصه به هر کال مرکزي کونسل ته وړاندې کېږي.
12. دمرکزي کمېټي غونډه به پهٔ هرو دوو (۲) مياشتو کې کېږي او د ضرورت پر وخت يې هر وخت کولای شي.
13. مرکزي غونډه ( ميټېنګ ) به مرکزي مشر ( تحريک مشر ) راغواړي او اېجندا به يې پنځه ورځې مخکې وړاندې کوي ، پهٔ بيړني ډول راغوښتل شوې غونډې د وخت بندېز نشته خو د راغوښتو سره يې د اېجندا ښکاره کؤل ضروري دي.
14. د غونډې د ځنډېدو لهٔ کبله مرکزي کمېټه ۱ پر ۳ غړي راغوښتی شي.
15. د مرکزي کمېټي د غونډې مشري به د تحريک مشر کوي او يا به د هغه لهٔ لوري ټاکل شوی د مرکزي کمېټي غړی کوي

## -4.7

## مرکزي کونسل

- (1) ضلعي کمېټه به پۀ مشوره پنځه تنان ټاکي د مرکزي کونسل د پاره.
- (2) د مرکزي کمېټې غړی به د مرکزي کونسل غړی وي خو د احتساب په لړ کې به رایه ( ووټ ) نۀ شي ورکولای.
- (3) مرکزي کمېټه به د خپلو ټولو کړنو راپور مرکزي کونسل ته وړاندې کوي.
- (4) د مرکزي کونسل اجلاس به کال کې کم نه کم یو ځل کېږي.د اجلاس مشوره او اېجنډا تیارؤل به مرکزي سي سي کې کېږي.د اجلاس مشري به د تحریک مشر کوي.

**5*-**

## خصوصي څانګې

1. پي ټي ایم به د خپل هدف ترلاسه کؤلو پۀ خاطر د بیلا بیلو کارونو او هلو ځلو د سرته رسؤلو د پاره پۀ مرکز ، ایالت( صوبه) او ولسوالۍ( ضلعي ) کمېټو کې ځانګړې کمېټې فعالې ساتي.

2. دا کمېټې به د تحریک ( غورځنګ ) لۀ خوا ورکړل شوې ذمه وارۍ د آئین لاندې ترسره کوي.

3. د تحریک مشر به د ټولو څانګو څارونکی وي او څارنه به کوي

4. ټولې کمېټې به مرکزي کمېټې ته ځواب ورکؤنکې وي.

5. ټولې کمېټې (څانګې ) به پۀ خپل آئیني حدونو کې کار کوي.

6. پۀ ضلع کې خصوصي کمېټې به د ضلعي کمېټې غړي د ټاکنو کمېسیون تر څار لاندې ټاکي.

7. صوبه کې خصوصي کمېټې به دصوبایي کمېټې غړي او مرکز کې خصوصي کمېټې به د مرکزي کمېټې غړي د ټاکنو کمېسیون تر څار لاندې ټاکي.

8. هرې خصوصي کمېټې ته په انتخاب یا ټاکنه کې به دهغه کار اهلیت او قابلیت درلودو ته لومړیتوب ورکول کېږي.

## – 5.1

## مالي/ معاشي څانګه

1. دا به د مالي نظام د شفافیت او نظم په اړه کار کوي.

2. د تحریک فنډ به د مالي کمېټې سره وي

3. د مالي کمېټې لۀ اجازې پرته هېڅوک هم د فنډز ریزینګ نۀ شي کولای او نۀ د تحریک فنډ د مالي کمېټې لۀ اجازې پرته استعمالؤلی شي.

4. مالي کمېټه به د فنډ ټول ریکارډ پۀ لیکلي ډول خوندي ساتي او همدا ډول به د چندې د ټولؤلو او مصرفؤلو حساب شفاف ساتي.

5. مالي کمېټه به د تحریک فنډ خالص د تحریک د هلو ځلو د پاره استعمالوي.

6. مالي کمېټه به مرکزي کونسل ته اډېټ ورکوي.او مرکزي سي سي به هم پۀ حساب کتاب خبره ساتي.

7. د فنډ ترسیل او شفاف ریکارډ د پاره به مرکزي مالي کمېټه د ضلعي مالي کمېټې ، ایالتي / صوبايي مالي کمېټې او په بهرنیو هېوادونو کې د پي ټي ایم مالي کمېټو سره پۀ اړیکه کې وي.

## 5.2 - قانوني څانګه

1. هره اداره ( مرکزي ، صوبايي او ضلعي کمېټه ) به د ټاکنو کمېسيون پۀ نګرانۍ کې قانوني کمېټه ټاکي.
2. لومړيتوب به وکيلانو او د قانون سره تړلي کسانو ته ورکړل کېږي.
3. قانوني کمېټه به د تحريک د پاره د عدالت ، کورټ او کچرۍ سره تړلي ټولو مسئلو د حل کولو د پاره هلې ځلې کوي.
4. قانوني کمېټه به د تحريک پۀ سر مسئله باندې Case کوي.

## 5.3- اطلاعات ، نشر و اشاعت څانګه

1. ضلعي کمېټه به ضلعي ، صوبايي کمېټه به صوبايي او مرکزي کمېټه به مرکزي اطلاعات ، نشر و اشاعت کمېټې جوړوي.
2. دا کمېټې به د تحريک بيانيه ، اعراض و مقاصد ، هلې ځلې پۀ رسنيو ، ټولنيزو رسنيو او مختلفو فورمونو بيانوي او دفاع به يې کوي.
3. پۀ دې کمېټو کې به د رسنيو مسلکي کسانو ته لومړيتوب ورکړل کېږي.
4. مرکزي اطلاعات ، نشر و اشاعت کمېټه به افيشل مرکزي ټولنيزو رسنيو پاڼې ، صوبايي کمېټه به صوبا يي او ضلعي کمېټه به ضلعي آفيشل ټولنيزو رسنيو پاڼې فعالې ساتي . مرکزي ، صوبايي او ضلعي کانټېکټ / اړيکو ګروپونه به هم فعال ساتي.
5. اطلاعات ، نشر و اشاعت څانګه به دتحريک ټولې هلې ځلې ، بيانيې او معلومات ډاکومېنټ کوي او د چاپ مسؤليت به يې هم د دغه څانګې کار وي.
6. د تحريک د هرې سرګرمۍ د پاره به دا څانګه پمفلټ ، پوسټر او بېنرې چاپ کوي او پۀ وولس کې به يې وېشي.
7. د ټولنيزو رسنيو/ سوشل مېډيا د غوره استعمال د پاره به خصوصي آفيشل ترتيبات جوړوي.
8. دا کمېټه به د هرې پېښې چې په تحريک پورې اړه لري معلومات راټولوي او تحقيقات به يې کوي

## 5.4)

## جنګ رښتيا او انساني حقوقو کمېټه/څانګه

1. ضلعي کمېټه به د ضلعې ، صوبايي کمېټه به د صوبې او مرکزي کمېټه به د مرکز جنګ رښتيا او انساني حقوقو کمېټه جوړوي.
2. دا کمېټې به په پښتونخوا وطن کې د شوو جنګي جرمونو ،تباهۍ او بربادۍ مسايلو ډېټا راټولوي.
3. د انسانيت خلاف جرمونه ډلَئيزې وژنې ، د انسانانو جبري ورک کول او ځمکني مائنونه.
4. انساني تراژيدي، وژنې ، تشدد ، په زور بې ځايه کول ،کډوالي ، نسلي پروفائلېنګ او ويره خوَرؤل.
5. انفراسټکچر / وداني او تباهي،کورونه ، بازارونه ،دوکانونه ، کاروباري ځايونه ،رودونه ، تعليمي ادارې او روغتونونه.
6. جبري قبضې، کورونه ، باغونه ، تعليمي ادارې ، بازارونه ، ځنګلونه ، ځمکې ، تجارت ، معدنيات او تاريخي ودانۍ
7. معيشت، اېن اېل سي ، د تورخم ، چمن بندول ، د ځنګلونو وهل ، په طبيعي ښکلا لرونکو سيمو کې ناامني (چې سېلانيان رانۀ شي )، او انډسټري نۀ پرېښودل مسلې.
8. ګرانټې او فنډز، د ترهګرۍ خلاف جنګ پۀ نوم لۀ نړۍ څخه اخېستل شوی فنډ او د هغې حساب او کتاب.

(5.5

## ډسپلېن کمېټه/څانګه

1. دا کمېټه به په ضلع ، صوبه او مرکز کې فعاله وي او مربوطه ادارې به د ټاکنو کمېسیون تر نګرانۍ لاندې جوړوي.
2. دا کمېټه به د تنظیم د غړو په منځ کې معاملات حل کوي.
3. هر غړی چې لۀ بل غړي څخه شکایت لري ، خپل شکایت به دغه کمېټې ته وړاندې کوي او پۀ خپله به هېڅ ډول عمل یا ردعمل نۀ څرګندوي.
4. دا کمېټه به خپل کارونه پۀ بې طرفه ډول ترسره کوي.

(5.6

## بهرمېشتې کمېټې /څانګې
## پۀ بهرنو هېوادونو کې د پي ټي ایم ټاکلي تنظیمونه:

1. د نړۍ پۀ هر هېواد کې چې پښتانۀ پکې مېشت دي هلته به د پښتون ژغورنې غورځنګ د بهرمېشتو پښتنو تنظیم جوړېږي.

علاقه،ښار،،ولایت، هیواد.

د ملک د تنظیم حېثیت به د دلته د ضلعې/ولسوالۍ وي چې یو تن به د تحریک د مرکزي کمېټې د پاره منتخب کوي.د ملک یا هېواد د کمېټې شمېر به لږ تر لږه شل کسان وي او علاقه/ټاؤن یا ښاري کمېټه به کم نه کم لس غړي لري.د دغه نه کم غړو پۀ صورت کې به د هغه ځای ملکي کمېټه فېصله کوي چې یو ښار د بل ښار سره یو ځای کړي او یا بل صورت ورته جوړ کړي.
د بهرمېشتو پښتنو کمېټې به ځانته د اجلاس چلؤلو او راغوښتلو د پاره مشر ټاکي.صدر،چېرمېن، سېکټري،سپیکر یا بل نوم کۀ ورکوي.نوره طریقه به د آئین وي.

2. د څو بیلابیلو هېوادونو د شریک او یا د یوۀ ځانلههېواد د تنظیمي حېثیت ټاکل به د غورځنګ مشر، د هم هغه هېواد او د مرکزي کمېټې پۀ مشوره د نوو ټاکنو نه وړاندې کوي چې چېرته د غورځنګ د غړو شمېر کم وي او ولایتي،هېوادي تنظیم ته د ضرورت وړ کسان نۀ شي پوره کؤلی –.(خو کۀ د څو هېوادونو یو شریک مرکزي تنظیم جوړېږي نو د دغه ملکونو ځانلهد تنظیم حېثیت به بیا د یوۀ ښار په څېر وي. د براعظم یا یورپ کچ مشترکه کمېټه ، ،تنظیم کۀ وي نو هغه به لکه د صوبو پۀ شان وي خو د دې مشر به د تحریک د مرکزي کمېټې غړی نۀ وي.هر هغه ملکي یا ولایتي تنظیم به مرکزي سي سي (کورکمېټې) ته نمائنده ورکؤلی شي چې کم نه کم شل تنه ملکي/ ولایتي کمېټه ؤلري).د ټاکنو د پاره به هر هېواد کښې د ټاکنو کمېشن جوړېږي چې د هغې وضع به د هغه ځای د تحریک مشران ( سي سي.کور کمېټه) جوړوي.د آئین د مزاج لحاظ به ساتي.یعنې یو ښار کښې د ټاکنو د پاره د بل ښار کسان چې د ټاکنو کار سرته ؤرسوي.
د بهرمېشتو کمېټې به د خپل هېواد سره تړلي ټول کارونه د خپلې کمېټې او تحریک پۀ مشاورت کوي .

.3 د بهرمېشتې کمېټې یا د دې کمېټې غړی کۀ د خپل هېواد نه بهر په بل هېواد کې پۀ تنظیمي هلو ځلو کښې برخه اخېستو د پاره ځي نو د هغه هیواد کمېټه به يې فېصله کوي او پۀ مرکز کې به د تحریک مشر پۀ اعتماد کې اخلي، کۀ معامله یورپ سره تړاؤ لري نو د یورپ دپاره به د همږغې یا کوارډنېشن کمېټې یا یورپ سي سي پۀ اعتماد کې اخلي. کۀ د تحریک د کار د پاره چرته تلل وي نو هم به د خپل هېواد مقامي تنظیم سره مشوره کوي، اجازت به اخلي او هم به مرکزي مشر خبروي.دغه شان چې چرته ځي نو کۀ هلته د پي ټي ایم تنظیم وي نو هغوی به اعتماد کې اخلي. د څۀ لانجې صورت کښې به د مرکزي مشر امر حتمي وي .

4. د کمېټې یا د پي ټي ایم غړي به د نورو ملکونو سفارت خانو، ډپلوماټ میډیا سره لیدو نه اول د خپلې کمېټې او د تحریک مشر نه مشوره او اجازت اخلي.(یورپ کې به د یورپ کواردینېشن کمېټه هم اعتماد کې اخلي کۀ معامله د یورپ سره تړاو لري). کوشش به کوي چې داسې هېڅ کار ؤنۀ کړي یا ګام وانخلی چې د تحریک متنازعه کؤلو کې استعمال شي .

.5

دا کمېټه به نظر ساتي چې د تحریک ملګري او د تنظیم غړي پۀ آئین عمل کوي او د تحریک اغراض و مقاصد او اصولو پاسداري کوي .

6. ټولې ډائسپوره/ بهرمېشتې کمېټې به خپل پۀ لاس موجود فنډ د پي ټي ایم مالیاتي کمېټې ته ښکاره کوي. غړي یا کمېټه به د پي ټي ایم د علم یا اجازت نه بغېر د غورځنګ پۀ نوم چنده نۀ غونډوي.. .کۀ مرکزي مالیاتي کمېټه د څنې چندې سورس ؤغواړي نو ورکؤلی به شي.

7. بهرمېشتې کمېټې به ټول مالیاتي معاملات د پي ټي ایم د مالیاتي وضعې او طریقه کار مطابق کوي .

8. هره بهرمېشتې کمېټه به خپل کارونه سر ته رسؤلو د پاره طریقه کار ټاکي. لکه اجلاس راغوښتل، فېصله سازې کؤل، د پي ټي ایم حمایت زیاتؤل، خصوصي اداري یا کمېټې جوړؤل.هلته د کلچر کمېټې او بهرمېشتي کواردینېشن کمېټې ضرورت هم شته.د کار د آسانتیا د پاره مرکزي کورکمېټه دوی ته د کړنلارې ضمني دستاوېز هم جاري کؤلی شي. اجلاس کؤل د وخت پۀ حساب د ضلعې دی.

9. د تحریک د مشر پۀ وینا بهر هېوادونو کې جلسه او لاریونونه او نور سیاسي عمل سر ته رسؤل یا منعقد کؤل .

10. بهرمېشتې کمېټې به د پي ټي ایم د اغراض و مقاصد د حصول دپاره پوره هڅه کوي لکه بهر د ادارو او حکومتونو حمایت تر لاسه کؤل، د بېن المللي بشري حقوقو ادارو مخې ته د پښتنو کېس وړاندې کؤل/ اېښودل..د کانفرنسونو او سېمینارونو انعقاد .

11-

د یورپ د پاره به د کواردینېشن خپله کمېټه جوړېږي.د ټولو ملکونو د تحریک د تنظمیونو کواردینېشن کمېټه به بیله وي کۀ چرې ټول تنظیمونه یې غواړي. دا به بهر هېوادونو کې د پي ټي ایم پۀ خپلو منتخب غړو مشتمله وي.

## .5.7)

### د ټاکنو کمېټه /څانګه

1. د مرکزي کمېټې لۀ خوا به د ټاکنو مرکزي کمېټه جوړېږي.
2. د ټاکنو مرکزي کمېټه به د ټاکنو صوبايي او ضلعي کمېټې جوړوي.
3. د غړیتوب فورمې ، غړیتوب او د آئین مطابق ادارو جوړؤل به د دغه کمېټې کار وي.
4. د ټاکنو کمېټه به بې طرفه وي.
5. د ټاکنو کمېټه به کوښښ کوي چې د یوې صوبې د ټاکنو لۀ پاره د بلې صوبې تنان وټاکي

## 5.8)

## رابطه کمېټه/څانګه

1. رابطه کمېټې به ضلعه، صوبه او مرکز کښې سیاسی ګوندونو، ادبي ډلو او سماجي ټولنو سرا روابط جوړاوي.
2. سوله د پاره راجوړ تنظمونه یا ټولنو، ټرېډ یونینې، سیاسي او ټولنیز تنظیمونو، ګوندونو، بار اېسوسي اېشنز، او نورو ډلو سره راوابط کوششونه کوي.

3. د تحریک هلو ځلو یعني جلسه، جلوس، اجلاس، احتجاج/لاریون، هړتال او کانفرانس کښې د دوي مرسته دپاره به کوشش کوي.

5.9⇦

تنظیمي او فکري کمېټه.

1- دا به سي سي ته د تحریک تنظیمي او د فکري اړخ په حواله رپورټ وړاندې کوي.

د سي سي د منظورئ نه پس به د مشر په مشوره د تحریک د تنظیمي او فکري روزنو شېډول او ترتیب جوړوي

2- د ملکي . ، منتقي او بېن الملي حالاتو په حواله به سي سي باخبره ساتي.

## 5.10-

## مرستندویه کمېټه.

دا کمېټه به د پي ټي ایم غړو سره په سخت ساعت کښې مرسته کوي او دغه د پاره به د یو مشکل صورت کې متعلقه بالا کمېټه هم خبروي او متحرک کوي.د دغه نه زیاتي د تحریک مقامي تنظیم او مشران به هم خبروي او متحرک کوي.

## 6* –

## د تحریک مشر (لارښود)

1. موجود مرکزي مشر به د درې سېشن لهٔ پاره مشر وي.
2. د تحریک نمایندګي به کوي.
3. د تحریک د مرکزي سرګرمیو ، اجلاسونو ، غونډو ، جلسو ، جلسونو مشرتوب به کوي.
4. د تحریک د منظم ساتلو او پراختیا د پاره به کار کوي.
5. د تحریک د فېصلو هدایت به جاري کوي.
6. د ټولو خصوصي کمېټو او ادارو اجلاس هر وخت د ضرورت پر اساس راغوښتی شي.
7. د مرکزي کمېټې د پاره ۱۲ دوولس غړي اخېستی شي خو نومونه به یې مرکزي سي سي ته وړاندې کوي.

## -6.1

## د تحریک د مشر زمه واري.

1. د تحریک قائد د مرکزي کمېټې تر بیرغ لاندې ائین کې درج شوي مقاصدو د ګټلو د پاره به تحریک ته سمه لار جوړوي او په دې لړ کې به د پي ټي ایم بیلابیلو کمېټو ته لارښوونه کوي ، هغوی ته به قیادت ورکوي پر دغه خبره به یقین جوړوي چې د پي ټي ایم پروګرام ، بیانیه ، طریقه کار په صحیح ډول روان دی.
2. د پي ټي ایم سېکرټرېټ کارکوونکی او د تحریک ترجمان به د تحریک د مشر لاندې کار کوي د تحریک مشر به دوی ته مسؤلیتونه سپاري او پر دوی به نظر ساتي.
3. د تحریک مشر به لهٔ بیلابیلو کمېټو څخه راپورونه اخلي او د تحریک مشر به یې د خپلو سپارښتنو سره یو ځای مرکزي کمېټې ته وړاندې کوي.
4. د پي ټي ایم د مقاصدو د ګټلو د پاره به د تحریک مشر د نورو تحریکونو ، سیاسي ګوندونو او تنظیمونو د مشرانو سره ملاقاتونو کې د پي ټي ایم نمایندګي کوي او د پي ټي ایم جلسې او جلسونه به د دهٔ پر مشرۍ او هدایت باندې ترسره کېږي.
5. د مرکزي کمېټې د مشر په حېث به د تحریک مشر په بیړنیو حالاتو یا بلې وجې لهٔ امله مشرتوب بل غړي ته په عبوري ډول ورکړۀ لی شي
6. د تحریک مشر به پي ټي ایم د آئین او قانون پابندي کوي.

## *-7

## ضابطه اخلاق

1. ا ټول کارکنان به د تحریک اغراض و مقاصدو، قواعد و ضوابطو او اصولو پابند وي.
2. په تحریک کې یو غړی هم د بل غړي سره تړلي مسئله ذمه وار فورم ته خو وړاندې کولای شي خو د بل کردار کشي ( پراپېګنډه ) ، تور تړل بۀ وولس یا ټولنیزو رسنیو ( سوشل مېډیا ) او نوره باندې به اجازت نه وي.
3. په تحریک کې د نظر احتلاف یو صحت مند عمل ګڼل کېږي خو البته د غېرمهذبه الفاظو/ ژبې او دهړکو استعمال اجازه چاته نۀ ورکؤل کېږي او کۀ څوک يې ؤکړي نو تأديبي چلند به ورسره کېږي.
4. تحریک به د شخصي ګټو ، شخصي مقاصدو او شخصي شهرت د پاره نۀ استعمالېږی البته د تحریک اصول ، مفادات او مقاصد عملي کؤل د هر غړي او عهده لرونکي لومړنی مسؤلیت دی.
5. د اختیاراتو نه تجاوز یا ناسم استعمال او یا فرائضو نه سرغړونه به جرم تصور کېږي
6. مالي بدعنواني یا بې ضابطګۍ صورت کې به د ملامت تن سره تاديبي چلند کېږي.
7. د پښتون ژغورنې غورځنګ د پاره ټول سیاسي ګوندونه او د هغې غړي محترم دي.
8. د مرکزي کمېټې داخلي بحثونه او معاملات بهرته اېستل قابل سزا جرم ګڼل کېږي.

پۀ درنښت

پښتون ژغورنې غورځنګ

پای